پوهندوی آصف بهاند

# د لوږې سونامي

لس‌مه برخه

## د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي

## پنځه څلوېښتمه برخه



جنت ګټلیه اشنا راشه
ستا دوزخي ماشومان غواړي خیراتونه

افغانستان او افغانان د خپل تاریخ په ډېرو ستونزمنو او تیارو شپو ورځو کې راګیر دي. ځیني د هغه جمهوریت افسوس کوي چې تر پرونه یې تخریباوه او بدرد یې پسې ویل، ځیني بیا نویو واکدانو ته ځنې اړوی او د فتحې په نامه شکرونه ادا کوي؛ یادې دواړه ډلې ښایي په دې خبرې نه وي چې دا څویم کال دی چې د مځکې د کرې په ترټولو غمجنو انسانانو په لست کې مو تر ټولو لومړی لیکلی دی.

د لوږې سونامي څپې ورځ تربلې زور اخلي او زمونږ بپوسه هغه هېوادوال چې د سیاسیونو د پرلپسي تېروتنو او دروغونو تېرایستلي دي، په لومړي ګام کې قرباني کېږي، یا ژوند له لاسه ورکوي او یا یې ترسترګو وړاندې ماشومان او کوچنیان د خوړو د نشتوالي په وجه په خوارځواکۍ اخته کېږي او ورسره سم د همدې خوارځواکو ماشومانو او کوچنیانو میندې پلرونه په رواني ناروغیو اخته کېږي.

د افغانستان په سیاسي او نظامي کشاله کې ښکېل کورني او بهرني اړخونه پر خپلو دریځونو اوس هم ټینګار کوي او نور هم د خلکو د خوارېدو او نویو ستونزو د رامنځته کېدو زمینه برابروي.

د سره صلیب د نړیوالې کمېټې رئیس دومینیک ستیلهارت کابل ته تر خپل سفر وروسته ویلي دي چې په افغانستان کې روان بشري ناورین به د میلیونونه انسانانو د مرګ سبب شي او په تېره د ماشومانو او کوچنیانو په باب یې ویلي دي چې:

«... د افغان ماشومانو عکسونه څرګندوي چې دوی ډېر وحشتناک ژوند لري، ډوډۍ او روغتیایي خدمتونه نه ور رسېږي، اضطراب او خپګان یې سترګو نه ښکاري او دا ډېره لړزونکې موضوع ده...»

نړیوال چګې وهي چې بانکي سیستم له منځه ځي، د هېواد او خلکو اقتصاد ویجاړېږي او ټولنه د بدویت پر لور سقوط کوي، خو د اورېد له پاره هېڅوک نه شته.

هوښیار او پوه افغانان او هغه نړیوال چې د افغانستان او افغانانو په باب د ښېګنې فکر لري؛ همدا اوس باید د دې بشري ناورین مخنیوی وکړي، که د دې پیل شوي بشري ناورین لمن پراخه شي، بیا به یې د مخنیوي وس له هېڅ چا او هېڅ ځواک سره نه وي.

اوس پر افغانستان او افغانانو باندې داسې حالت راغلی دی چې د هر څه غبر ټپ درېدلی دي، یوازې له هرې خوا نه لوږه چیغې وهي.

د نوي حکومت پلویان د نویو واکدارانو د تورو پاجونو، په جیبونو کې کې د اېښودل شویو مسواکونو او پاکو څپلیو صفتونه کوي، خو دې ته یې پام نه دی چې خلک د لوږې سونامي غرق کړل.

یو جا ډېر ښه ویلي دي:

«تنها صدایی که این روزها بیشتر از موسیقی به گوش میرسد، صدای گرسنگی و بیچارگی مردم است.»

یوه په خبره پوه فیسبوکي کارن د ژور تحلیل په پایله کې افغانانو ته د لوږې له سونامي نه د خلاصون په پار ویلي دي چې:

«چې په نس ماړه نه یاست سم عبادت هم نه شئ کولای،

په فردي اقتصاد نه شئ ښادمن کیدلای تر څو چې د خپلې ټولنې اقتصادي وس او توان چاغ نه کړئ.»

په افغانستان کې د بشري ناورین او لوږې د مخنیوي له پاره هندو مذهبه هېواد (هندوستان) د پنځوس زره ټنو خوراکي توکو او درملو د مرستې وعده کړې ده؛ خو مسلمان؟ هېواد (پاکستان) له خپلې خاورې نه د دې مرستو د لېږد اجازه نه ورکوي، هم حق العبور غواړي او هم دا هم وایي چې لېږدول یې باید پاکستاني لارۍ وکړي، څو دوی خپله ګټه وټه په کې تر لاسه کړي.

ملګري ملتونه او نورې نړیوالې خیریه مؤسسې ډېره هڅه کوي چې د انساني بحران د نه رامنځته کېدو په برخه کې مرسته وکړي، خو...

ملګري ملتونه په جګ غږ وایي چې: که مرسته ورسره و نه شي، د افغانستان بانکي نظام به له "سخت سقوط" سره مخ شي.



**زه د جـنـت لـه نعـمتونو دلته برخه غواړم**
**غږ مې درځي پروردګاره وږی شوی یمه**

ښښني نړیوال سازمان څو ځلې ویلي دي چې:

د بشري ناورین مخنیوي لپاره دې پر افغانستان اقتصادي بندیزونه لېرې کړل شي
خو په جا يې اورې او په چا يې منې؟

خلک دې برید ته رسېدلي چې:

نـه ستوری د اسمان او نه سپوږمـی غواړي باچا
دې ښار کې خلک وږي دي، ډوډۍ غواړي باچا
شاعر (؟)

د ګودر او د بنګړي کیسې زړې دي
د وطـن د وږو تـږو غـم په کار دی
شاعر (؟)